مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۳/۰۸/۱۹

# خپلواکي



خپلواکي د ایوب خان د شملې ول دی
د غازي امان الله د لارې پل دی
خپلواکي له میربچه سره په ګډه
د اتل وزیراکبر د جنګ مورچل دی
خپلواکي د جینکو د مکتب زنګ ده
له تیارو سره د سپیني رڼا جنګ ده
خپلواکي د ځوان شپانه د یاکوربان غږ
خپلواکي د ملالۍ د سترګو رنګ ده
خپلواکي د هیلمند شور دپامیر لوړه
انګازې یې د سپین غر پر هره تږه
خپلواکي د ( وداني) دوهم پیژاند دی
خپلواکي خپله ډوډۍ خپله جونګړه
خپلواکي لکه خندا د ماشوم ښکلې
خپلواکي لکه اوبه، رڼه سپېڅلې
خپلواکي د دې ملت بدن کې روح ده
خپلواکي یې د وینتیا په نور پرېولې
خپلواکي خپلې اوبه پرخپله زمکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپلواکي :د پوهې کرکه له ټوپکه
خپلواکي ښېي ښېي په ولولو ده
له آمو نه رانیولې تر اټکه
خپلواکي نوې مانا د نوي ژوند ده
روښانتیا سره د سولې یو پیوند ده
خپلواکي د مور ټیکری د بابا توره
خپلواکي خوب د جانان پر سپین مړوند ده
خپلواکي د مکتبیانو په کتاب کې
خپلواکي د مستانه میین رباب کې
خپلواکي یوه نغمه ده یو آواز دی
خپلواکي خوږه وږمه د زلفو تاب کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ